د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

AREU

څېړنه د ښه افغانستان لپاره

# په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ له وجې د بېوزلۍ ارزونه

مارچ ۲۰۲۲

Chronic Poverty Advisory Network

## هېوادونه تر کومې اندازې دې ته چمتو دي، چې پر بېوزلو کورنیو د کوېډ -۱۹ اغېزې راکم او د غربت مخنیوی وکړي؟ [1]

| دوامداره تولنیز بدلون | اقتصادي وده | د تولنیز خوندیتوب پوښښ | انساني پرمختیا |
|---|---|---|---|
| ۲ | ۱ | ۲ | ۲ |
| پو لړ اقدامات خو له نیمګړتیاوو سره مل | د بېوزلو په لاسنیوي کې نیمګړتیاوې | ٪۷.۵ | MPI = ۰,۳۲۸ |

د پالیسۍ د چمتووالي کچه: بسنه نه کوي ● قناعت بښونکې ● پیاوړي ●

په افغانستان کې کوېډ -۱۹: [2]

**۱۷۱،٦٧٣**

ثبت شوي پېښې

**۷،۵۲۴**

د مړینې ثبت شوي شمېره

**٪۱۰.٦۳**

واکسین شوي وګړي

زیانمنې برخې

### $ اقتصادي برخه

د بېوزلۍ کچه د ۲۰۱۹ز کال په مني کې ۴۳.۷ سلنه نه د ۲۰۲۰ز کال په پسرلي کې ۵۱ سلنې ته لوړه شوه. وړاندوینه دا وه، چې د ۲۰۲۰ز کال په اوږدو کې به د بېوزلۍ کچه لا پسې پراخه شي او د م.م سازمان وروستي اټکلونه دا په ډاګه کوي، چې د ۲۰۲۲ زکال تر منځنیو پورې به شاوخوا ۹۷ سلنه وګړي په بېوزلۍ کې ژوند تېروي.

د بېوزلۍ کچې زیاتوالي د افغان وګړو د ازادو کاروبارونو په پراخه پیمانه له منځه تلو کې هم انعکاس موندلای دی. د بېلګې په توګه، د کرونا وبا د مخه د ۲۰۱۹ز کال اکتوبر او ۲۰۲۰ز کال مارچ میاشتو ترمنځ د سروې ارقامو مقداري تحلیل ته په کتو له ۲۱ تر ۲۲ سلنه وګړو د یو کال د مخه وخت په پرتله خپل اقتصادي شرایط ترېنګلي ښودلي. د دې ترڅنګ د ۲۰۲۰ز کال له اپرېل تر جون میاشتې پورې ۷۲ سلنه وګړو خپل اقتصادي شرایط ترېنګلي ښودلي، چې د ۲۰۲۰ز کال له جولای تر سپتمبر میاشتې پورې دا شمېره بیا ۸۱ سلنې ته لوړه شوې ده. [3]

د کوېډ- ۱۹ له کبله د بازارونو تړل کېدو او په لېږد رالېږد کې خنډ او ځنډ د کروندګرو، کوچنیو کاروبارونو، معاش لرونکو کارکوونکو او ورځنۍ اجورې کارګرانو عواید راکم کړي وو. له کومو خلکو سره چې مرکې شوي، په خپلو ځوابونو کې یې د عوایدو له لاسه ورکول د کرونا وبا خپرېدو په لومړنیو وختونو کې د ګرځبندیز محدودیتونو، ځنډ او د پراخې اقتصادي ځوړتیا له کبله د توکو او کارونو لپاره د تقاضا له کمېدو سره تړلي ګڼلي وو. [4]

ځواب ویونکو په صادراتي بازارونو کې د خنډ رامنځ ته کېدو، د موادو د تولید لوړ لګښت په څېر د کاروبار ترسره کولو لوړ لګښت او د ورځنۍ کارګرانو لپاره د تقاضا د کمښت له وجې د توکو لپاره د تقاضا راکمېدو ته اشاره کړې ده. د دې ترڅنګ، د زده کړو او صنعت په برخو کې معاش لرونکو کارکوونکو هم د مخکېنیو ګرځبندیزونو پرمهال د خپلو دندو له لاسه ورکولو یادونه کړې ده.

*" په بازار کې د انګورو هېڅ تقاضا نشته. سوداګر نه شي کولای هندوستان او پاکستان ته انګور صادر کړي. کله چې بازارونه ښه وو، د یو من (په هرات کې د ۴ کیلوګرامو معادل) ممیزو قیمت له ۵۰۰ افغانیو (۵.۴۴ امریکایي ډالرو) زیات وو.[5] په یاد وخت کې موږ ښه ګټه کوله. خو اوس یې ګټه نشته، ځکه د یو من ممیزو قیمت شاوخوا ۲۵۰ افغانیو (۲.۷۲ امریکایي) ډالرو ته راټیټ شوی." نارینه ځواب ویونکی، ۳۰، د پښتون زرغون ولسوالۍ کلیوالي سیمه، هرات.*

*" ما خپله دنده او معاش دواړه له لاسه ورکړل. زه په یوه ښوونځي کې قراردادي ښوونکې وم. ما ته نور معاش نه راکوي، ځکه ښوونځي د کرونا له وجې تړل شوي دي." ښځینه ځواب ویونکې، ۲۸، پښتون زرغون ولسوالۍ.*

*" زما زوی په ودانیزو کارونو کې بوخت دی، خو د کرونا له وجې د ګرځبندیز پرمهال یې کار نه و... بناً نو موږ نه شول کولای تر دې کچې پیسې وګټې، چې موږ ته یې هم راولېږي... زیاتره خلک بې روزګاره دي، ځکه د پخوا په څېر اوس ودانیز کارونه نشته. که چېرې ښار ته هم لاړ شي، هلته هم د کرونا او ناامنۍ له وجې کارونه نشته. غیردولتي سازمانونه یا موسسات هم نور فعالیت نه کوي، چې کلیو ته د خلکو لپاره پروژې راوړي." ښځینه ځواب ویونکې، ۴۶، پښتون زرغون ولسوالۍ.*

«کله مو چې خپل حاصلات راټول کړل او بازار ته مو یوړل، په بازار کې یې هېڅ پېرودونکی نه و. د ګرځبندیز(کرنتین) له وجې چې دوه ځلې تېر کال(۲۰۲۰کې) وضع شو او یو ځل سږ کال (۲۰۲۱ کې) وضع شو، موږ ونه شول کولای چې خپل حاصلات وپلورو... دې کار زموږ ژوند ته سخت مالي زیانونه اړولي دي.»

نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل، هرات

«زموږ د کورنۍ کومو غړو او ګاونډیانو چې په صنعتي فابریکو کې کار کاوه، خپلې دندې یې له لاسه ورکړې، ځکه تولیدي شرکتونه د کرونا له وجې په ټپه ودرېدې. زه هم بې روزګاره یم، زوی مې هم د دندې له لاسه ورکولو له وجې زما پر اوږو اضافي بار ګرځېدلی.»

نارینه ځواب ویونکی، ۵۳، انجیل، هرات

يو ځواب ويونکي چې کورنۍ يې کندهار ته کډه شوې وه، پر کليوالي او ښاري سيمو د کوېډ -۱۹ اغېزو ترمنځ توپير ته اشاره کړې ده، په تېره بيا د اغېزو دا توپير يې د ناروغۍ مخنيوونکو اقداماتو له وجې په ښاري سيمو کې د عوايدو ګټلو په برخه کې ياد کړی دی.

*"کله چې موږ په خپله ولسوالۍ کې وو، خلکو کوېډ- ۱۹ ته د کورنۍ، ژوندانه او ورځنيو اجورو په وړاندې د خنډ په سترګه نه کتل. موږ په خپل کلي او ولس کې ګرځبنديز (کرنتين) نه درلود، زموږ د ولسوالۍ د تلفاتو کچه هم ډېره کمه وه. بلې خوا، په کندهار ښار کې خلکو خپل خپلوان له لاسه ورکړل. له کرنتين سره مخ شول او د ورځې پر مهال يې کار ونه شول کولای. "نارينه ځواب ويونکې، ۲۲، کندهار ښار.*

د عمده توکو په تېره بيا د خوراکي موادو، کرنيزو وسايلو او نفتي موادو د نرخونو لوړوالی د خلکو ډېرنيو اند ېښنو څخه ده. د زياترو ځواب ويونکو په اند د قيمتونو دا لوړېدل د وبا پر مهال د کوېډ – ۱۹ له وجې د بازارونو تړل کېدو او په لېږد رالېږد کې د خنډ او ځنډ له کبله وو، خو اوسنۍ جګړې او بې ثباتۍ (لاندې يې وګورئ) بيا د قيمتونو له دوامداره زياتوالي سره مرسته کړې ده.

*" د هر ډول خوراکي موادو قيمت لوړ شوی. تر کوېډ-۱۹ د مخه د پخلي ۱۰ ليتره غوړيو قيمت له ۲۰۰ تر ۷۰۰ افغانيو (۲.۵۳ تر ۷.۲۲ امريکايي ډالرو) و. او سمهال د همدې اندازې غوړيو بيه له ۱۱۰۰ افغانيو (۱۱.۹۷ امريکايي ډالرو) لوړه ده. پردې سربېره، د يو لېټر پټرولو بيه ۲۵ تر ۳۰ افغانيو (۰.۲۷ تر ۰.۳۲ امريکايي ډالرو) وه. د کوېډ – ۱۹ وبا تر خورېدو وروسته د يو لېټر پټرولو بيه ۵۷ افغانيو (۰.۶۲ امريکايي ډالرو) ته لوړه شوې ده. کله چې موږ له هټۍ والو د قيمتونو لوړېدو وجه پوښتو، دوی د پولو تړل کېدل يادوي. د هېوادونو ترمنځ لېږد رالېږد بند شوی او دې کار پر صادراتو او وارداتو دواړو اغېزې کړې. " نارينه ځواب ويونکی، ۵۳، پشتون زرغون.*

*" يوه بوجۍ توره کمياوي سره چې پخوا يې قيمت ۲،۱۰۰ افغانۍ (۲۲.۸۶ امريکايي ډالر) و، اوس يې قيمت ۴،۰۰۰ افغانيو (۴۳.۵۴ امريکايي ډالرو) ته رسېدلې. دوې اونۍ وړاندې ما سپينه کمياوي سره په ۱،۱۲۰ افغانۍ (۱۲.۱۹ امريکايي ډالرو) وپېرله، خو اوس يې قيمت ۱،۷۱۰ افغانيو (۱۸.۶۱ امريکايي ډالرو) ته لوړ شوی." نارينه ځواب ويونکی، انجيل ولسوالۍ.*

## روغتيا برخه

د اقتصادي شرايطو په څېر د خوړو خونديتوب په برخه کې هم ګډې تجربې شتون لري. ځکه د ځواب ويونکو له ډلې زياترو دا خبره کړې چې د کوېډ – ۱۹ پر ناروغۍ د اخته کېدو له وجې په مستقيم ډول اغېزمن شوي، يا خپله پرې اخته شوي وو يا يې هم د خپلو کورنيو غړو يا نېږدې خپلوانو له ککړېدو يادونه کړې ده. پر ناروغۍ د ککړېدو روغتيايي اغېزو کچه له منځنۍ اندازې چې له کومې درملنې پرته تېره شوې بيا تر مړينې پورې رسېده. روغتيايي اسانتياوو ته له لاسرسي په پراخه کچه يادونه شوې، که څه هم د درملنې لګښتونو او د لېږد په برخه کې خنډونو پر هغو خلکو اغېزې درلودې، چې د درملنې په لټه کې وو.

« د کارګرانو کارونه نېږدې په ټپه ولاړ دي. د پولې تړل کېدو له وجې د کارګرانو د کاري وسايلو او موادو قيمتونه لوړ شوي. په ودانيزو ساحو کې کار درېدلی. ودانوونکی نه شي کولای چې د خپل کار لپاره د ورځنې کارګران وګماري، له دې وجې ورځنۍ اجورې هم راکمې شوي دي.»

نارينه ځواب ويونکی، ۲۵، انجيل ولسوالۍ

« د کرونا له وجې د پولې له تړل کېدو سره د ځينو مهمو وارداتي توکو قيمتونه لوړ شوي، د کمياوي سرې او تخمونو په څېر يو شمېر شيان ډېر قيمته شوي. زموږ لګښتونه هم لوړ شوي، ځکه بايد زيات خوارکی توکي کړو، ترڅنګ يې ناروغۍ هم دي، چې په درملنه يې پيسې لګېږي.»

ښځينه ځواب ويونکې، ۱۹، انجيل ولسوالۍ

د کوېډ -۱۹ له پيل راپدېخوا د توکو قيمتونه لوړ شوي. پخوا به موږ يو ټيم د پخلي غوړي په ۱۲۰۰ افغانۍ (۱۳.۰۶ امريکايي ډالرو) پېرل، خو اوس د هماغه يو ټيم پخلي غوړيو قيمت ۲،۴۰۰ افغانيو (۲۶.۱۲ امريکايي ډالرو) ته لوړ شوی دی. کله چې د توکو قيمتونه لوړېږي، نو پر شته عوايدو د خلکو ګوزاره کول ډېر ستونزمن کېږي. له نېکه مرغه د غنمو او اوړو په قيمتونو کې تر اوسه کوم بدلون نه دی راغلی.»

نارينه ځواب ويونکی، ۵۳، ډنډ، کندهار

### د دولت مخنيوونکي اقدامات

د ۲۰۲۱ ز کال اګست ۱۵ د مخه کوېډ -۱۹ ناروغۍ په افغانستان کې پر ټول دولتي سيستم سخت اغېز کړی دی. يادې وبا مستقيماً پر کاروبارونو، کاري بازار، روغتيا او ټرانسپورټي سيستمونو هم اغېزې کړې دي. په دې هېواد کې د ۲۰۲۰ ز کال د مارچ له ۲۸ مې بيا د مې مياشتې تر ۹ مې نېټې ګرځبنديز لګېدلی و. ټول ښوونځي او د هوټلونو، پارکونو، مارکېټونو، ځايي بازارونو، وادونو تالارونو او رسټورانټونو په څېر د ټولنيزو راټولېدنې ځايونه تړل شوي وو.

حکومت د کوېډ – ۱۹ ناروغۍ لومړنۍ روغتون په هرات ولايت کې په ۲۰ ورځو کې جوړ کړ. دا نوبت بيا د کندهار، بدخشان او ننګرهار په ګډون نورو مهمو ښارونو ته هم وغځېده، ورپسې په بېلا بېلو زونونو او ولايتونو کې د اکسيجن د توليد اسانتياوې هم رامنځ ته شوې. د هرات او کندهار په څېر ولايتونو کې حکومت له پاکستان او ايران څخه د راستنېدونکو او کډوالو لپاره د کتنې مرکزونه جوړ کړل، او د کوېډ -۱۹ پېښو په لوړ شمېر ساحو کې يې د ببړني غبرګون ډلې او د ماسکونو، دستکشو، صابون او عفونت ضد کيټونو زېرمې رامنځ ته کړې. د راپورونو له مخې په کابل او ولايتونو کې د کوېډ -۱۹ درملنې زياتره روغتونونه د وسايلو د کمښت له وجې او سمهال تړل شوي دي. د کوېډ -۱۹ درملنې د ۳۷ مرکزونو له ډلې ۳۲ يې اوسمهال تړلي دي.

دا مخنيوونکي اقدامات زموږ د معلوماتو راټولولو تر وخته (جون ۲۰۲۱) پوره پر خپل ځای پاتې وو او خلکو هم له بېلا بېلو دولتي ادارو نغدي او غيرنغدي مرستې ترلاسه کولې. خلکو د واکسين لومړني او دويم ډوزونه ترلاسه کول، که څه هم د واکسينو لپاره تقاضا د عرضې په پرتله زياته وه.

د کوېډ -۱۹ په وړاندې د حکومت پر اقداماتو دوې مهمې نيوکې موجودې دي: لومړی، د کوېډ -۱۹ درملنې د مرکزونو په تداراکاتي پروسو لکه د مصنوعي تنفس دستګاوو (وينټلاټورونو) په پېرودلو کې د پراخ فساد موجوديت يادونه شوې او بل د شهرت او ملاتړ ترلاسه کولو لپاره د کوېډ -۱۹ له درملنې د سياسي وسيلې په توګه د ګټې پورته کولو خبره شوې ده. د بېلګې په توګه د افغانستان خلکو لپاره د نړيوال بانک په تمويل او د حکومت له لوري عملي کېدونکې د کوېډ -۱۹ اغېزو تسکين کوونکې هڅې چې د ملي دسترخوان پروګرام په نوم يادېدې، په ګڼ شمېر ولايتونو کې د طالبانو له خوا د ۲۰۲۱ ز کال په جنوري کې په نښه شوې، ځکه له طالبانو سره په دې برخه کې همغږې کمه وه او طالبانو ويل، چې بايد ډاډ ترلاسه شي چې په دې پروګرام کې د چور او غلاء مخنيوی کېږي او مرستې اړمنو خلکو ته رسيږي.

ځینې ځواب ویونکو د درملنې له لټون یادونه کړې، که څه هم ډېری هغو یې د دوی کورنیو پر اقتصادي امنیت د دې درملنې د لګښتونو اغېزو او خپلو بوختیاوو او ورځنۍ اجورو له لاسه ورکولو ته اشاره کړې ده. یو ځواب ویونکي دا خبره هم کړې، چې د کوبډ – ۱۹ لپاره یې روغتیایي مرکز ته د تګ خطرونو په اړه د ناسمو معلوماتو له کبله له درملنې ډډه کړې ده.

*" مور د کرونا له وېرې سره ژوند کوو. زوی مې تېر کال ناروغ شو، خو له نېکه مرغه ژر ببرته روغ شو. زه هم تېر کال په کرونا ناروغۍ اخته شوی وم. د خدای تعالی شکر چې ببرته جوړ او روغ شوم. دویم زوی مې چې له ایران څخه راویستل شوی و، هم ناروغ شو. خلکو ویلې چې په کرونا اخته شوی و، خو د نوموړي روغتیایي وضعیت تر موړ بدتر و. زما اېنګور هم تېر کال کرونا شوه، بیا مو ډاکټر ته مراجعه کړه او هغه یو څه درمل ورکړل، جوړه شوه." نبځینه ځواب ویونکې، ۵۲، پشتون زرغون ولسوالۍ.*

*" د کوبډ -۱۹ له پیل راهیسې زموږ اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي. زما مور، مېرمنه او زه خپله په کرونا ناروغۍ اخته شوو. ما د هغوی د درملنې پیسې نه لرلې... بل دلیل چې مور مې ډاکټر ته نه بوتلله دا و، چې ما په دې اړه ډېر شایعات اورېدلي وو، چې که کوم څوک په کوبډ -۱۹ ککړ وي او د درملنې لپاره ډاکټر ته ورشي، ډاکټر یو پېچکاري ورکوي چې مړ یې کړي، ځکه په دې کار سره دوی غواړي چې د کوبډ -۱۹ له وجې د خلکو د مړینې شمېره زیاته کړي. له دې کبله ما دا جرأت ونه کړ چې خپله مور ډاکټر ته بوځم. زه هم ۱۵ ورځې ناروغ وم او ډاکټر ته مې مراجعه ونه کړه، ځکه پیسې مې نه لرلې." نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل ولسوالۍ.*

زیاترو ځواب ویونکو بیا د ناروغۍ د موجودیت پر نښو او علایمو سربېره په خپلو ولسونو کې د کوبډ -۱۹ پر موجودیت بې باورۍ او په دې اړه د اندېښنې له کموالي یادونه کړې ده.

*" زموږ په کلي کې خلک کوبډ -۱۹ ته د جدي موضوع په سترګه نه ګوري. که څه هم زموږ په کلي کې زیاتره خلک ناروغان وو، خو دوی فکر کاوه چې زکام یا هم تبه لري. د دې ترڅنګ د کوبډ -۱۹ پر مهال زموږ په کلي کې یو شمېر خلک مړه هم شول. دا خبره نه ده معلومه، چې دوی په کوبډ – ۱۹ ککړ وو او که نه." نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل ولسوالۍ.*

*" زموږ په کلي کې داسې خلک وو، چې په ډاګه یې ویل چې کرونا پر موږ اثر نه شي کولای. دوی د ټولنیز واټن مراعات کولو، لاسونو وینځلو او نورو مسایل په پام کې نه نیول. له دې کبله، تر یو څو اونیو وروسته زموږ په کلي کې زما د کورنۍ په ګډون ګڼ شمېر خلک په کرونا ککړ شول، ولې خوشبختانه، دوی ډاکټر ته تللو نه بغیر روغ شول. د کرونا لپاره مو ټېسټ نه و کړی، خو هغه تبه او درد چې زموږ په وجود کې وو، د زکام تبې او دردونو په څېر نه وو. موږ ډاډمن و، چې په کرونا اخته شوي یو." نارینه ځواب ویونکی، ۵۳، پشتون زرغون ولسوالۍ.*

## خوراکي بسیاینه

افغانستان تر کوبډ-۱۹ د مخه هم د دوامداره جګړې او سختو وچکالیو له وجې له خوراکي اړخه بسیا نه و. د کوبډ -۱۹ اغېزو بیا د زیاترو کلیوالي او ښار مېشتو کورنیو وضعیت لا پسې ترېنګلی کړی دی. د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سروې ارقامو له مقداري تحلیل جوتیږي، چې له کوبډ -۱۹ د مخه (۲۰۱۹ اکتوبر بیا تر ۲۰۲۰ز کال مارچ پورې) ۲۹ سلنه کورنۍ د اړتیا وړ خوراکي موادو نشتوالي په اړه اندېښمنې وې، دا شمېره د کرونا وبا په لومړنیو میاشتو (۲۰۲۰ز کال له اپرېل تر سپټمبر میاشتو کې) ۷۲ سلنې ته لوړه شوه. د وبا خورېدو په همدې پورته یاده شوې موده کې د مخکنیو میاشتو په پرتله زیاترو کورنیو د کم خوراک، له یو وخت ډوډۍ نه خوړلو، ډېرې کمې غذایي تنوع او نورو عواملو یادونه کړې ده، چې د دوی په لوړه کچه خوراکي ناامنۍ په ګوته کوي.[٦]

زیاترو ځواب ویونکو د خپلو کورنیو د خوړو په خوندیتوب کې د یو شمېر بدلونونو یادونه کړې ده، یو کم شمېر نورو بیا د کوبډ -۱۹ له وجې د خپلې خوراکي ناامنۍ زیاتوالي خبره کړې. هغو کورنیو چې په خپل دسترخوان کې یې د کمو یا هېڅ بدلون نه راتلو یادونه کړې ده، ښایي له دې امله وي چې دوی خپل د خوړو خوندیتوب نورمال کړی وي.

*"تر کوبډ -۱۹ د مخه موږ په اونۍ کې دوه یا درې ځلې غوښه خوړله. خو اوس یې دوې اونۍ وروسته یو ځل یا هم په اونۍ کې یو ځل خورو." نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل ولسوالۍ.*

## ټولنیز پیوستون

ګڼ شمېر ځواب‌ویونکو د کورنیو پر تحرک، ټولنیزو اړیکو، او پراخ ټولنیز پیوستون د کوبډ -۱۹ غیرمستقیمو اغېزو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده. پر تګ راتګ د محدودیت فشارونو او ژوندانه اړتیاوو د تامین لپاره د فرصتونو کمښت، چې زیاتره یې په کور کېناستو ته اړ کړي دي، پر ټولنیزو اړیکو هم سخت محدودیت رامنځ ته کړی او د ذات البیني شخړې یې راپورته کړې دي. هغه خلک چې د بې ثباتۍ، جګړې او اقلیمي ناورینونو له وجې بې کوره شوي، هغوی هم د خپل ټولنیز ملاتړ د شبکې له لاسه ورکولو یادونه کړې او ویلې یې دي، چې دې کار د دوی ورځنۍ اړتیاوو فشار زیات کړی او له نورو سره یې د دوی پر اړیکو سیوری غوړولی دی. پردې سربېره، د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سروې ارقامو له مقداري تحلیل جوتیږي چې د منفي ټکانونو په غبرګون کې ډېرې کمې کورنۍ د دې جوګه وې، چې تر کرونا وبا د مخه شپږو میاشتو په پرتله د ۲۰۲۰ز کال له اپرېل تر سپټمبر میاشتو کې د کرونا وبا پر مهال پر نورو تکیه وکړي.[٧]

«علایمو او نښو نښانو ته په کتو زما د مېرمنې، دوو زامنو او د هغوی د مېرمنو په ګډون زما د کورنۍ پنځو غړو کرونا لرله. ما پر هر یو ناروغ ۱،۰۰۰ تر ۲،۰۰۰ افغانیو (۱۰.۸۸ تر ۲۱.۷۷ امریکایي ډالرو) لګولي، دا چې مېرمن مې سخته ناروغه وه، نو د هغې پر درملنه مې ۵،۰۰۰ افغانۍ (۵۴.۴۳ امریکایي ډالر) ولګول. دې ناروغۍ زموږ د عوایدو پر سرچینو او د کورنۍ پر اقتصادي شرایطو اغېزې لرلې.“

نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل ولسوالۍ

«زما د کورنۍ ټول پنځه غړي پر کرونا وایروس ککړ و. موږ ډاکټر ته له یو ځل زیاته مراجعه نه ده کړې او په خپل کور کې مو درملنه شوې ده... موږ پر خپله درملنه ۲۰،۰۰۰ افغانۍ (۲۱۷.۷۳ امریکایي ډالر) لګولي. له دې پیسو مې نیمایي خپله لرلې او پاتې نورې مې له یو ګاونډي په پور واخېستې.»

نارینه ځواب ویونکی، ۵۳، انجیل ولسوالۍ

### له خطر سره مخ ډلې

**بېوزله کورنۍ**

د مقابلې ستراتیژۍ ډېرې سترې کوونکې دي او پورونه نور هم زیاتوي

**بې ځایه شوې کورنۍ**

د ژوندانه اړتیاوو زیاتوالی او د مقابلې محدودې ستراتیژۍ

**کډوال کارګران**

کډوال کارګران له ایران ایستل شوي وو او د عوایدو سرچینې یې له لاسه ورکړې وې

*" کوبډ -۱۹ زموږ ژوند د ګرځنګ تر غاړې رسولی. زموږ د ژوند ټولې چارې یې راکډې وډې کړې. له کور مه وځئ. کار ته مه ځئ او د ژوند نورو چارو ترسره کول پرېږدئ، ناستو او مېلو ته مه ځئ. دې وبا خو زموږ ټول ژوند تر ګرځنګ رسولی او فلج کړی دی." نارینه ځواب ویونکی، **۵۳**، انجیل ولسوالۍ.*

*" کله چې سړي په کور کې بې روزګاره ناست وي، نو دا ورته ډېره سخته وي، چې هرڅه لکه د ماشومانو شورماشور او نور وزغمي. له دې وجې، دې کار زیاتې کورنۍ شخړې راپورته کړې او کورنۍ تاوتریخوالی زیات شوی دی." ښځینه ځواب ویونکې، **۲۸**، پښتون زرغون.*

## له کوبډ-۱۹ سره هم مهاله نورې اندېښنې

اقلیمي تغییرات: د م.م سازمان د چاپېریال ساتنې ادارې له لوري د افغانستان د زیان او تطابق تخنیکي ارزونې راپور له مخې افغانستان پر کرنه د تکیې، نازک چاپېریال، کمزوري ټولنیزې–اقتصادي پرمختیا، لوړ شمېر طبعي افتونو او ځلور لسیزې جګړې له وجې د اقلیمي بدلونونو په وړاندې د ډېرو زیانمنو هېوادونو په ډله کې دی. تر کرونا وبا لږ څه د مخه په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ز کلونو کې وروستیو وچکالیو له ۴۰۰،۰۰۰ زیات خلک بې کوره کړي دي. د دې ترڅنګ په ۲۰۱۹ز کال کې سختو سیلابونو دې شمېرې ته ۴۲،۰۰۰ نور خلک هم ورزیات کړي دي. د ځواب ویونکو له ډلې، هغو کسانو وروستي سیلابونه او وچکالي د خپل ژوندانه د سوکالۍ په وړاندې ګواښ بللی، چې په کلیوالي سیمو کې یې تکیه پر کرنه ده. زیاترو ځواب ویونکو دا یادونه کړې، چې په وروستیو دوو کلونو کې د سیلابونو تخریبوونکې اغېزې ډېر پراخې شوې دي.

*" تېر کال سیلاب زموږ کرونده سخته خرابه کړه. سږ کال هم سیلابونه راغلل او زموږ د کروندو یو شمېر نورې برخې یې هم له ځان سره یوړې. دې کار زموږ حاصلاتو ته سخت زیانونه واړول." نارینه ځواب ویونکی، **۴۲**، پښتون زرغون ولسوالۍ.*

پردې سربېره، د ۲۰۲۰/۲۰۱۹ز کلونو د سروې ارقامو په مقداري تحلیل کې له ناورینونو (لکه وچکالۍ او سیلابونو)، کرنې، یا هم د خوراکي توکو له قیمتونو سره تړلو ټکانونو د بېوزلۍ په زیاتوالي او سوکالۍ له لاسه ورکولو کې په تېره بیا د ۲۰۲۰ز کال په دوبي کې ډېره مرسته کړې ده.[۸]

سیاسي بې ثباتي او ناامني: اوږدمهاله ناامني او جګړه په هغو سروې کړی شوو سیمو کې، د زیاترو کورنیو له لوري د لومړنیو اندېښنو له ډلې وه. زیاتره ځواب ویونکي شخصاً د خپلو کورنیو یو یا زیاتو غړو له لاسه ورکولو، ژوندانه چارو مختل کېدو یا هم بې کوره کېدو په وجه له جګړو اغېزمن شوي وو. تقریباً نېږدې ټولو ځواب ویونکو پر ټولنیزو او ولسي اړیکو، خدمتونو د تهلاسرسي او ملاتړ دغه راز مقابلې ستراتیژیو راکموالي د جګړې له غیرمستقیمو اغېزو یادونه کړې ده.

د یادونې ده، چې مرکې د طالبانو له لوري په دې وروستیو کې د افغانستان بشپړ کنټرول او نړیوالو ځواکونو تر وتلو د مخه په بېړنۍ ډول ترسره شوې، له دې وجې دا موندنې هغه بدلونونه نه منعکسوي، چې له دې پېښو را وروسته منځ ته راغلي. له کندهار ولایت د ۲۰۲۱ز کال په جون او له هرات بیا په جولای میاشت کې د سروې ارقام راټول شوي دي. زموږ د څېړنې ډله په هرات ولایت کې وه، چې طالبانو د هرات ولایت اسلام قلعه او تورغونډۍ سرحدي سیمې او پښتون زرغون ولسوالۍ تر خپلې والکې لاندې راوستې.

*" داسې غله راپیدا شوي، چې له خلکو ان ګرځنده ټلیفونونه غلاء کوي، چې ښایي قیمت یې تر ۲،۰۰۰ افغانیو (۲۵.۳۲امریکایي ډالرو) وي یا هم له خلکو موټرسایکلونه تښتوي. دا ډول پېښې ډېرې کېږي. امنیتي وضعیت پر کروندګرو او هرچا ډېرې اغېزې لري نو، دې وضعیت زموږ پر عوایدو او ژوندانه هم ډېر اغېز کړی دی." نارینه ځواب ویونکی، **۲۵**، انجیل ولسوالۍ.*

د ۲۰۲۰/۲۰۱۹ز کلونو د سروې ارقامو له مقداري تحلیل دا جوتېږي، چې ناامنۍ او بې کوره کېدو د بېوزلۍ زیاتوالي او سوکالۍ له لاسه ورکولو احتمال په لوړېدو کې مرسته کړې ده. دا احتمال په تېره بیا د ۲۰۲۰ز کال په دوبي (له جولای تر سپټمبر میاشتو) کې خورا لوړ و.[۹]

## د مقابلې ستراتیژۍ

په ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ز کلونو کې د سروې ارقامو مقداري تحلیل د هغو ټکانونو په غبرګون کې د مقابلې ستراتیژیو ته اشاره کوي، چې کورنۍ ورسره مخ شوې دي. د ثبت شویو فعالو مقابلوي ستراتیژیو له ډلې یوه معمول ستراتیژي چې نېږدې نیمایي هغو کورنیو خپل لګښتونه کم کول، چې له دې ټکانونو سره مخ وې ترڅنګ یې زیاترو کورنیو پر کمو لګښتونو یا هم کم خوراک باندې تکیه کړې وه. پردې سربېره، د سروې په میاشتو کې چې د کوبډ-۱۹ له وبا سره هم مهاله وه (د ۲۰۲۰ز کال له اپرېل تر سپټمبر پورې) تر کرونا وبا د مخه دورې په پرتله دا ستراتیژۍ ډېرې معمول وې. نورې هغه ستراتیژۍ چې له دې کیفي معلوماتو راڅرګندې شوې دي، لاندې ورته اشاره شوې ده.[۱۰]

### له کوبډ ۱۹ سره د هم مهاله نورو زیانونو په اړه د ځواب ویونکو نظریات

« پخوا به خلکو په اونۍ کې پنځه شپې وریژې خوړلې، خو اوس یې هېڅ خوړلای نشي، غوښه خو بیا ډېره لرې خبره ده. زه داسې خلک پېژنم چې ان په میاشت کې هم غوښه نه شي خوړه لای. د وادونو او خیراتونو مراسم یوازېني وختونه دي، چې خلک کولای شي وریژې او غوښه په کې وخوري او انرژي ترې لاس ته راوړي، بله کومه لاره نه ده پاتې.»

نارینه ځواب ویونکی، **۵۳**، انجیل ولسوالۍ.

« موږ هره ورځ سهار وختي له خپل کور وځو، چې کوم ورځنۍ کار پیدا کړو. ځینې وختونه راته پیدا شي، خو زیاتره وخت یې نه شو پیدا کولای.

موږ خپله ازادي له لاسه ورکړې او له خپلو ملګرو سره د بنډار او ناستو لپاره فارغ وخت نه لرو. زموږ ټولنیزې اړیکې پاشل شوې دي. له دې وجې موږ دلته په کندهار کې څوک نه پېژنو.»

نارینه ځواب ویونکی، **۲۴**، کندهار ښار

«څو کاله وړاندې موږ له وچکالۍ سره مخ شو، خو هغه وچکالي دومره سخته نه وه لکه دا اوسنۍ چې سخته ده. سیلابونو هم زموږ ویجاړۍ ته کار وویل او ټولې کروندې یې راښخه یوړې. موږ رومي بانجان کرلي وو، خو سږني کال سیلابونو راخراب کړل... کروندې مو سیلابونو تر خټو لاندې کړې، همدا وجه وه، چې حاصلات یې ښه نه وو.»

نارینه ځواب ویونکی، **۵۲**، پښتون زرغون ولسوالۍ.

«سږ کال موږ له ډېرو مالي بحرانونو او ستونزو سره مخ شوو. هر کال سیلابونه راوځي، خو سږ کال یې زموږ کرونده په ناسم وخت کې لاندې کړه او زموږ حاصلات یې خراب کړل.»

نارینه ځواب ویونکی، **۲۴**، انجیل ولسوالۍ.

«ځینې خلک غنم او جوار کري، ځینې نور بیا غنم او ریحان کري. تېر کال په ډهلې بند کې اوبه نه وې، نو موږ د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره له لمریزې برېښنا ګټه پورته کړه. (یادونه: له ډهلې بند څخه د کندهار ښار، ارغنداب او ډنډ ولسوالیو کرنیزې ځمکې خړوبېږي). «

نارینه ځواب ویونکی، **۵۳**، ډنډ ولسوالي

پورونه او اوږدمهاله پوروړي کېدل: زیاترو ځواب ویونکو د عوایدو له لاسه ورکولو، خوراکي توکو قیمتونو لوړېدو، روغتیایي لګښتونو او نورو لوړو لګښتونو لکه د ولور او واده لګښتونو سره د پورونو اخېستو له لارې د مقابلې یادونه کړې ده. د سروې ارقامو له تحلیل څرګندیږي، چې پر پورونو تکیه تر کرونا وبا د مخه او د کرونا پرمهال نسبتاً دوامداره خبره وه. مقداري ارقامو ته په کتو هغو خلکو چې پورونه یې اخېستي وو، د خپلو پورونو په بېرته اداینه کې یې د ننګونې یادونه کړې او دوی یې د اوږدمهاله پوروړي کېدو له خطر سره مخ کړي وو.

*" زه د خپلو ورځنیو لګښتونو او نورو ضروري اړتیاوو پوره کولو لپاره له خپلوانو او ګاونډیانو پورونه اخلم. کله چې وسایلو ته اړتیا لرم، نو پور اخلم. کله چې زما د کورنۍ کوم غړی ناروغیږي او ډاکټر ته یې وړم نو پور اخلم. "*
*ښځینه ځواب ویونکې، **۴۶** ، پشتون زرغون ولسوالۍ.*

*" زموږ په کلي کې هېڅوک داسې نه دي پاتې، چې په دې شرایطو کې پوروړی شوي نه وي. یا خو یې د درملو پیسې نه لرلې او پور یې اخېستی یا یې د خپلو ورځنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره له ګاونډیانو پور اخېستی، چې بېرته به یې ورکوي. که چېرې دا وچکالي او کرونا دوام وکړي، نو موږ بله هېڅ لاره نه لرو، مګر دا چې ټول ژوند په قرضونو کې تېر کړو. " نارینه ځواب ویونکی، **۵۳** ، انجیل ولسوالۍ.*

بې کوره کېدل، کډوالي او حوالې: د داخلي بې ځایه شویو د څارنې مرکز وايي، چې: افغانستان په نړۍ کې د هغو هېوادونو په ډله کې دی چې د داخلي بې ځایه کېدو له سخت بحران سره مخ دی، ځکه دا هېواد له دوامداره جګړې، ناامنۍ او وچکالۍ، سیلابونو، طوفانونو دغه راز زلزلې په ګډون له پرله‌پسې ناورینونو کړېږي. بې ځایه کېدنه د زیاترو افغانانو لپاره یوه عامه مقابلوي تګلاره ګرځېدلې ده، او په ځینو حالاتو کې د ګڼ شمېر نسلونو لپاره د ژوند یوه ځانګړنه ګرځېدلې ده. له ۴۰۴،۰۰۰ زیات خلک په ۲۰۲۰ز کال کې د جګړې او تاوتریخوالي له وجې نوي بې ځایه شوي دي، چې د یاد کال په پای کې د ټولو بې کوره شویو خلکو شمېره شاوخوا **۳.۵** میلونو کسانو ته رسیږي. وروستۍ اندازه د **۲۰۱۹**ز کال په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي، چې په تېره یوه لسیزه کې تر ټولو لوړه شمېره ده.

*" کله چې د طالبانو او حکومت ترمنځ جګړه پیل شوه، دوی پر یو بل سختو ګوزارونو ته مخه کړه. زموږ په کلي کې د ډزو تبادلې له وجې ۱۱ کسان مړه شول. په دې ډله کې درې ماشومان هم ټپیان شوي وو. له دې پېښې وروسته ما پرېکړه وکړه، چې کندهار ښار ته راشم. کله چې زه له خپل کلي بې کوره شوم، موږ داوسېدو لپاره هېڅ سرپناه نه لرله. بیا زموږ یو نږدې خپل موږ ته یو کور پیدا کړ او له تېرو دریو میاشتو موږ دلته په دې کور کې اوسېږو. " نارینه ځواب ویونکی، **۲۵** ، کندهار ښار.*

*" کله چې جګړه پیل شوه، نو خلکو د خپلو کورونو او کلي پرېښودو ته مخه کړه. **۸۰** سلنه خلک نورو ولایتونو او ولسوالیو ته کډه شوي دي. هلته په کلي کې یوازې **۲۰** سلنه خلک پاتې دي. دا هغه خلک دي، چې بل چېرته د تګ جوګه نه وو او نه یې د تللو کومې لارې چارې او منابع لرلې. " نارینه ځواب ویونکی، **۲۷** ، انجیل ولسوالۍ.*

ایران ته کډوالي هم د زیاترو کورنیو له خوا د مقابلې ستراتیژۍ په توګه یاده شوې ده، که څه هم دوی دا ویلي چې دا کار د کوېډ -۱۹ له کبله د پولو تړل کېدو له وجې ډېر ستونزمن شوی دی.

*"له کرنې پرته بل کار موږ ته نه دی راپاتې شوی. زموږ کلی ډېر کوچنی دی. یوازې ۲۰ تر ۷۰ کسان زموږ له کلي ایران ته کډوال شوي دي. دوی هلته د کار لپاره تللي. د دوی له ډلې زیاتره یې داسې کسان وو، چې د یوې کورنۍ سرپرستۍ ورترغاړې وه، او یا یې باید د خپل واده ولور پوره کړی وای. " نارینه ځواب ویونکی، **۶۵** ، انجیل ولسوالۍ.*

*" یو کال کېږي، چې زما یو زوی په ایران کې دی. نوموړی له قانوني لارې په پاسپورټ او ویزه تللی، دا چې پوله تړلې وه، نو باید همالته پاتې شوی وای، خو اوس هلته په غیرقانوني ډول اوسیږي، ځکه د پاسپورټ موده یې ختمه شوې ده. " ښځینه ځواب ویونکې، **۴۰** ، پشتون زرغون.*

پردې سربېره، د کرونا وبا پرمهال د پیسو د لېږد مقدار هم راټیټ شو. په داسې حال کې چې په **۲۰۱۹**ز کال کې د حوالو مجموعي اندازه **۸۲۸.۲** میلیون امریکایي ډالرو ته رسېده، خو په ۲۰۲۰ز کال کې دا شمېره **۷۸۸.۹** میلیون امریکایي ډالرو ته راټیټه شوه.

د حکومت، غیردولتي سازمانونو او طالبانو له خوا لاسنیوی: د کوېډ-۱۹ وبا د اقتصادي اغېزو راکمولو په موخه د افغانستان حکومت یو لړ مرستندویه پروګرامونه عملي کړل، چې د یادو پروګرامونو له لارې یې زیانمن شوي خلک په نښه او له هغوی سره یې نغدي مرستې وکړې. د خوړو نړیوال پروګرام په څېر د نورو نړیوالو همکارانو په ملاتړ خوراکي مرستې لکه اوړه، وچه ډوډۍ، غنم او دال هغو خلکو ته ووېشل شول، چې په بد اقتصادي وضعیت کې وو. ټولنیزو شبکوو، ځايي سوداګرو، کاروباري خلکو او نورو شتمنو خلکو هم د هغو خلکو لاسنیوی کړی، چا چې دندې یا د عاید سرچینې له لاسه ورکړې وې.

د دغو پروګرامونو له ډېر شهرت سره سره، یو شو ځواب ویونکو دا خبره کړې، چې دوی د کوېډ -۱۹ بحران پرمهال یوازې له لږ شمېر خوراکي توکې او کمه اندازه نغدو پیسو پرته نور څه نه دي ترلاسه کړي. زیاترو ځواب ویونکو دا خبره کړې، چې د مرستو وېش اړمنو کورنیو ته ډېر غیرشفاف و او تر ډېره بریده له ځایي مشرانو سره پر اړیکو ولاړ و.

نظرات پاسخ‌دهندگان در مورد نگرانی‌های مرتبط با کوید-۱۹

"بزرگترین مشکل ما این است که کرونا و ناامنی هر دو با هم یکجا آمد. [شوهرم] علاوه بر معلمی و باغبانی، می‌توانست در گنج [جایی که مردم هفته یک یا دو بار برای تجارت کالا دور هم جمع می‌شوند] تجارت کند.

فعلا مردم نمی توانند به گنج بروند زیرا منطقه ما ناامن است و جنگ در اطراف آنجا جریان دارد. گاهی اتفاق می‌افتد که ما هفته‌ها به دلیل جنگ نمی توانیم از خانه خود خارج شویم. "

پاسخ دهنده زن، **۲۸** ساله، پشتون زرغون

"در چند هفته گذشته، طالبان کانالی را که از بند منشعب شده بود، بستند. در نتیجه اکثر دهاقین و باغداران از این موضوع شکایت داشتند و نگران بودند که اگر باغ خود را آبیاری نکنند ممکن است آن را از دست بدهند. پس از درخواست‌های زیاد مردم محل، طالبان دیروز آب را رها کردند و دیشب زمین خود را آبیاری کردیم. "

پاسخ دهنده مرد، **۵۳** ساله، دند

"جنگ، ناامنی و خشک‌سالی وجود دارد و ما نتوانستیم در زمین خود کار کنیم. در نتیجه تصمیم گرفتیم به شهر قندهار بیاییم. من کارگر روزمزد هستم. اما بازار کار در سال گذشته بسیار ضعیف بوده است و فعلا نمی توانم کار پیدا کنم. من معمولا در بخش ساخت و ساز کار می‌کنم. اما بازار ساخت و ساز راکد است و کوید-۱۹ هم این بازار را محدود کرد. "

پاسخ دهنده مرد، **۵۰** ساله، شهر قندهار

"اول در ماه میزان برادرم را کشتند و بعد از **۳۵** روز پدرم را کشتند. وقتی پدر و برادرم زنده بودند، درآمد داشتند. برادرم نظامی بود و معاش داشت. پدرم در باغ خود ما کار می‌کرد. درآمد داشت. ما دو منبع درآمد خانواده خود را از دست داده‌ایم. "

پاسخ دهنده مرد، **۵۳** ساله، دند

*" نه، موږ هېڅ مرسته نه ده ترلاسه کړې. یوازې یو ځل دوی موږ ته یو کارتن صابون راولېږه، چې پر کورنیو یې ووېشو." نارینه ځواب ویونکی، ۲۵، انجیل ولسوالۍ.*

*" زموږ د مسجد امام زموږ نوم ولیکه. تر یو څه وخت وروسته دوی زموږ امام ته خبر ورکړ او هغه لاړ د مرستو کڅوړه یې راوړه. لومړی ما خوراکي توکي (یوه بوجۍ اوړه، غوړي او نور خوراکي مواد) ترلاسه کړل او په دویم ځل مې بیا ۳،۰۰۰ افغانۍ (۳۲.۲۲ امریکایي ډالر) ترلاسه کړل. د دې ترڅنګ مې د یوې اونۍ لپاره هره ورځ درې وچې ډوډۍ ترلاسه کولې." نارینه ځواب ویونکی، ۴۲، ډنډ ولسوالي.*

*" زموږ ملک (د کلي مشر) ووژل شو او نوی ملک ډېر فعال نه دی. ملکان په دغو مرستو کې خورا حیاتي رول لري. که چېرې موږ یو فعال ملک ولرو، نو د خپلو کلیوالو لپاره د لاسنیوي لارې چارې یا مرستې پیدا کوي. وجه دا ده، چې نو موږ باید هره ورځ یا لږ تر لږه په اونۍ کې دوه ځلې ولسوالۍ ته لاړ شي، څو د مرستو او نورو خبرو په اړه معلومات پیدا کړي. زموږ پخوانی ملک په دې برخه کې ډېر فعال و. کله چې هغه مړ شو، بیا موږ هم کومه مرسته نه ده ترلاسه کړې." نارینه ځواب ویونکی، ۵۳، ډنډ ولسوالي.*

## څېړندوند

د کوېډ-۱۹ د ببوزلۍ د څارنې بولېټن د اوږدمهالي ببوزلۍ مشورتي شبکې (CPAN) او د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لخوا جوړ شوی ده. د کوېډ – ۱۹ ببوزلۍ ارزونې بولیټن په هر هېواد کې پر کرونا د ککړو خلکو له ډلې د یو شمېر خلکو په اړه د راټولو شویو اصلي ارقامو، له ځایو مشرانو او ولسي پرمختیا فعالانو سره د مرکو او د دویمي ارقامو په توګه د موجودو خپرو شویو منابعو له راپوځای کولو څخه راټول شوي ده. د دغو مهمو سرټکو لپاره مرکې او ډله ییز بحثونه په کلیوالي او ښاري سیمو کې د ۲۰۲۱ز کال د جون او جولای میاشتو ترمنځ د کندهار په ښار، او د کندهار ولایت په ډنډ ولسوالۍ کې دغه راز په هرات ښار او د هرات ولایت په پشتون زرغون او انجیل ولسوالیو کې ترسره شوي دي. د ارقامو تحلیل د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې ۲۰۱۹/۲۰۲۰ له مخې ترسره شوی. د دغو مهمو سرټکو لپاره د نمونې اخېستنې او څېړندود په اړه لا ډېر جزئیات دلته موندلای شئ.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ: www.chronicpovertynetwork.org/covid-19

## پای لیکونه

۱. د اوږدمهالي ببوزلۍ مشورتي شبکې د ببوزلۍ له منځه وړلو پالیسۍ چمتووالي شاخص په اړه چې د کوېډ ۱۹ لپاره په پام کې نیول شوی دلته ولولئ.

۲. د جان هاپکنز پوهنتون د کوېډ-۱۹ د څارنې داشبورډ، د ۲۰۲۱ز کال د نوامبر میاشتې تر ۲۹مې نېټې.

۳. د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، (۲۰۲۱)، د ۲۰۲۰/۲۰۹ز کلونو دعوایدو، لګښتونو او کاري ځواک سروې.

۴. دیواکار، ۲۰۲۲، راتلونکې، د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک د ارقامو له مخې تحلیل.

۵. ټول پولي واحدونه د www.xe.com په مرسته په ډالرو د ۲۰۲۲ز کال د فبرورۍ په ۱۸مه نېټه تبدیل شوي.

۶. دیواکار، ۲۰۲۲، راتلونکې، د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک د ارقامو له مخې تحلیل.

۷. دیواکار، ۲۰۲۲، راتلونکې، د عوایدو، لګښتونو او کاري ځواک د ارقامو له مخې تحلیل.

۸. دیواکار، ۲۰۲۲، راتلونکې.

۹. دیواکار، ۲۰۲۲، راتلونکې.

۱۰. دیواکار،۲۰۲۲ ،راتلونکې،دعوایدو، لګښتونو او کاري ځواک د ارقامو له مخې تحلیل.

د برېتانیا شاهي حکومت بهرنیو چارو وزارت ګډو ګټو او پرمختیا دفتر په ملاتړ د کوېډ کولیکټیو (Covid Collective) سازمان د پرمختیایي مطالعاتو په انسټیټیوټ کې موقعیت لري. دا سازمان د برېتانیا شاهي دولت او سویلي څېړنیزو همکارو سازمانونو متخصصین سره رایوځای کوي او د ټولنیزو علومو ببېړنۍ څېړنې وړاندې کوي څو د کوېډ-۱۹ له وجې د پرمختیایي ننګونو اړوند ځینو فشاري برخو په اړه د پالیسۍ اقداماتو په موخه یو لړ وړاندیزونه وکړي.

covid collective
SOCIAL SCIENCE RESEARCH FOR COVID-19 ACTION

په دې څېړنه کې وړاندې شوي نظریات د لیکوال دي او د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری یا هم همکارو سازمانونو نظریات نه منعکسوي

د خپرونې کوډ: ۲۲۰۲ پ

ژباړه: احسـان الله ځیرک

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره